دين نصيحت دی

له تميم الداري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: "دين نصيحت دی" مونږ وويل: د چا لپاره؟ هغه وفرمايل: "د الله لپاره، د هغه د کتاب لپاره، د هغه د رسول لپاره، د مسلمانو چارواکو او د دوی عامو خلکو ته".

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې د دين بنسټ په اخلاص او صداقت ولاړ دی، تر دې چې په هغه ډول بشپړ ادا شي لکه څرنګه چې الله تعالی لازم کړی دی، پرته له هر ډول کوتاهۍ، غفلت او فريب څخه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وويل شول: چې دين د چا لپاره نصيحت دی؟ نو هغه وفرمايل: لومړی: د الله تعالی لپاره نصيحت: هغه ته په اخلاص سره عمل کول، له هغه سره شرک نه کول، د هغه په ربوبيت، الوهيت، اسماء او صفاتو امر لوی ګڼل، او پر هغه باندې ايمان راوړلو ته بلنه ورکول دي. دويم: د هغه د کتاب؛ قرآن کريم‌ايمان لرل، د هغه لپاره نصيحت پدې خبره باور ساتل دي چې دا د هغه کلام او وروستی کتاب دی، د ټولو مخکينيو شريعتونو منسوخوونکی دی، مونږ يې درناوی کوو، په حقه يې لولو، په محکم يې عمل کوو، او متشابه ته يې غاړه ږدو، د تحريف کوونکو د تاويل په وړاندې تري دفاع کوو، له نصيحتونو يې پند اخلو، علوم يې خپروو او بلنه ورته کوو. دريم: د هغه د رسول؛ محمد صلی الله علیه وسلم لپاره نصيحت: پدې خبره ايمان لرل دي چې هغه وروستی پيغمبر دی او په هغه څه کې يې ريښتنی وګڼو چې راتګ يې پرې کړی دی، حکمونه يې ومنو، له هغه څه ډډه وکړو چې مونږ يې تري منع کړي يو، د الله عبادت يوازې په هغه څه سره وکړو چې هغه پرې راتګ کړی دی، د حق درناوی يې وکړو، احترام يې وکړو، دعوت ته يې بلنه ورکړو، شريعت يې خپور کړو او تورونه تري لرې کړو. څلورم: د مسلمانو چارواکو لپاره نصيحت : په حق چارو کې د هغوی ملاتړ کول، له هغوی سره د واک په سر شخړه نه کول، د الله تعالی د اطاعت په چوکاټ کې هغوی ته غوږ نيول او اطاعت يې کول. پنځم: د مسلمانانو لپاره نصيحت: له هغوی سره نيکي کول، هغوی ته بلنه ورکول، هغوی ته د ضرر رسولو مخنيوی، له هغوی سره ښېګڼه خوښول، او له هغوی سره د نيکي او تقوا په چارو کې مرسته کول دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4309

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee